افغان جرمن آنلاین

پوهنمل حاجي محمد نوزادي
۲۰۱۶/۱۰/۲۳

# له اسلامه پرابلم که اسلام ته پرابلم؟

یو ترکی انډیوال لرم چې یو وخت مو په یوه کورس کې سره په ګډه کار کاوه . دی چې یو روڼ اندی مسلمان ، تل يې موسکا پر شونډانو خپره ، ډیر مؤدب سړی او زموږ بلاک ته نژدې په یوه بلاک کې اوسیږي ، کیډلای سی ووایم چې ګاونډی مې دی . کله چې موږ ډنمارک میشتو افغانانو دلته پدغه زموږ د استوګنې په ښار ( Aarhus ) کې خپل مسجد نه درلود ، نو د اخترو لمونځونو او د جمعې لمونځونو د پاره به دده سره د دوی مسجد ته تلم . اوس چې د رب فضل دې موږ خپل مسجد لرو او مسجد مو ددغه ترکې انډیوال د کور تر څنګ دی ، نو کله ناکله هغه د جمعې لمانځه د پاره زموږ مسجد ته راځي.
افغانان خو په خپل هیواد کې دننه د لسیزو راهیسې د غم پر تغر ناست دي . موږ چې دلته بهر یو ، ددې متل سره برابر اوسیږو چې وایي : در درون بلا باشي ، در بیرون بلا نه . هرکله چې به په هیواد کې کوم راکټ لویدلی وو یا کوم بمب چاودلی وو او یا کوم بختور ځانمرګي به د وینو له دریاب نه ځان د حورو تر ساحله رسولی او دلته یې رسنیو خبر خپور کړی وو ، ترکې انډیوال به مې رانه پوښتل چې دا په افغانستان کې څه جهالت روان دی ؟ ده به خبرې راسره په ډنمارکي کولې مګر « جهالت » یا کله ناکله « جاهلیت » به یې په عربي یاداوه . ما به تل دده پدغه پوښتنه خجالت ایست او ور څخه به شرمیدلم ، بله چاره مې نه درلوده ، ورته به مې وویل چې خدای دی ورحمیږي . ده به تل ویل : افغانان یې باید له ترکیې نه زده کړي چې هم غوړیدلی اسلام لری ، هم غوړیدلی مدنیت دی او هم غوړیدلی اقتصاد ، ایا دا بده چې ترکان د خوندیتوب او امن په غیږه کې خپل اسلامي مکلفیتونه تر سره کوي ؟ ما به هم په زړه کې د ځانه سره ویل چې کاشکې موږ هم د پاک رب د دومره رحم لایق و ګرځو.
اوس دهغه متل سره مخامخ یو چې وایي: «که زه نه سوم ستا په رنګ، تا به کړم د ځان په رنګ» . خدایه ! ددې پر ځای چې ترکیه دې زموږ په رنګ کړه ، کاشکې دې موږ ددوی په رنګ کړي وای . اوس چې په ترکیه کې هم د بختورو کمی نسته او یو په بل پسې ځانونه د حورو و پستې غیږې ته رسوي ، زه چې می هغه ترکی انډیوال ووینم ، پوښتنه ورڅخه کوم چې دا بیا په ترکیه کې څه جهالت سویدي ، هغه په ډیر خجالت راته وایي: « نوزادي! ټول اُمت مسلمه د پرابلمونو سره لاس او ګریوان دی ، نور مي پر زخمونو مالګې مه پاشه».
خبره د اسلام او پرابلمونو راغله . د روان ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۱۴ نیټه مي په ډنمارکي ورځپاڼي متروایکسپرس کې یوه لیکنه ولوستل چې د فرانسې د اولسمشر ، هولاندي Holldnde له خولې یې لیکلي دي: « فرانسه د اسلام سره په یوه پرابلم اخته ده، . . . بلې پدې کې هیڅ شک نسته چې موږ د اسلام سره پرابلم لرو » . ددغو کرښو وروسته د لیکني لیکوال زیاتوي: «دا هغه څه دي چې یو اولسمشر یې باید هیڅکله و نه وایي» . ښایي د ښاغلي هولاندي دا نظر به د هغو ناوړو پیښو سره په تړاو سره وي چې سږکال د ځینو تندلارو د خوا په فرانسه کې منځته راغلې.
اوس به راسو دې خبرې ته چې ولې هره ناوړه پیښه او پرابلم د اسلام سره د یوه پراخ او خیر غوښتونکې دین په توګه تړل کیږي ؟ اسلام خو لکه څنګه چې ما په دیني کتابونو کې لوستي ، د توحید دین دی او پر دې خبره ټینګار کوي چې پاک خدای رب العالمین دی ، نه رب المسلمین ، یاني په دې دنیا کې پر ټولو انسانانو باندي مهربانه دی ، نه یوازې پر مسلمانانو باندي . بله خبره چې هولاندي یې باید په پام کې و نیسي ، هغه داده چې دغه سخت دریځي او بنسټ پالنه په اسلام کې چې دی یې د پرابلمونو ډک بولي ، د کومه سوه ؟ که دا د اسلام یوه نه بیلیدونکې برخه وي ، نو دا دومره پیړۍ ولې دغه اوسني پرابلمونه نه وه ؟ ځیني کسان د اخوان المسلمین ګوند چې په مصر کې منځته راغي ، ددې ډول ناخوالو پیل کونکي یادوي . پدې هکله باید دا هم له یاده و نه باسو چې د هغه وخت د اخوان المسلمین نژدې ډیری مصري مشران مدني خلک وه ، ږیري یې خریلې ، اروپایي دریشي ګاني یې اغوستلې او لکسي نیټایي ګاني یې تړلې . لنډه داچې د ننني بنسټپالنو ځانګړتیاوي ور سره نه وې . ښه ، بیا نو دا بنسټ پالنه له کومه راغله ؟ دا هغه سوال دی چې باید ځواب ورته پیدا سي.
ښاغلی هولاندي ! ددغې پوښتني ځواب هم ډیر مشکل ندی . که ستا په یاد وي ، د تیرې پیړۍ د اویایمو کلونو په پای او د اتیایمو کلونو په پیل کې چې د ساړه جنګ بازار تود وو ، پدغسې نازکو شرایطو کې د کرملین لنډه غرو او په سیاست کې ناپوهو مشرانو د سره اردو ادمخوره سپیان پر افغانستان ور مارش کړل ، اولسمشر حفیظ الله امین یې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وواڑه او پر ځاي يې خپل لاسپوځي ببرک کارمل ته په کابل کي د ارګ واک وسپاره . ددې سره سم تاسي لويديزوالو د امريکا په مشرى د سوسياليزم د ټکولو په موخه اسامه بن لادن د هغه د ورانکارو انډيوالانو سره اسلام اباد ته راوست ، هلته مو خپل په مالي مرسته د ( ای ايس اي ) پلاس د بنسټپالني او تروريزم د روزلو مرکزونه ورته جوړه او د تيوريتيکي چارو مشرتوب مو همدغه بن لادن ته وسپاره . بن لادن چي پخپله يې هم ميلياردونه ډالر درلوده او لوړ استعداد خاوند وو ، ستاسي په مرسته يې دټولي نړۍ څخه د حورو تږي بنسټپالان سره راټول او د القاعدې مرکز يې په پاکستان کي جوړ کړ . کله چي د افغانانو د بيشميره قربانيو له برکته سور اردو د شا دخوا په لغته ووهل سو او د زمرو له هيواده و شړل سو او ور سره سم نه يوازي شوروي اتحاد بلکه ټول سوسياليستي بلاک دړي وړي سو . تر دې وروسته تاسي پسله دی نه افغانان نور هير کړل او د تنظيمي ناورين پر اور مو يو په بل پسي تيل ور اچول ، مګر تروريزم او بنسټپالنه د يوه سيستم په توګه د پخوا پشان په خپل مرکز پاکستان کي پاته سول . د هم هغه وخت راهيسي د القاعدې بنامار چي تاسي په خپل لستونی کي ساتلي وو ، د اعتياد له مخي يې بايد د زهرو کڅوړي يو په بل پسي تخليه کړی وای ځکه چي د ډيري مودي د پاره يې دغه کڅوړي په خپلو غاښونو کي ساتلای نه سوې . نور نو نه شوروي پاته وو ، او نه هم کمونيزم . خود کرده درد ندارد . کوهی مه کينه د بل سري په لار کي ـ کنه ستا به د کوه په پلو لار سي . دادي اوس هغه زهر ستاسی په وجود کي هم توئيږي . موږ هم پدې باندي ډير خواشيني يو چي ددغو زهرو د قربانيانو ډيری برخه بې ګناه وګړي دي.
کله چي امريکا او انډيوالانو يې وليدل چي القاعده نور د نړيوالو په ذهنيتونو کي د امريکا او يارانو سره يې تړلي ګڼل کيږي ، دوی يې د بديل په لټه کي سوه . هغه وو چي په عراق کي د داعش پر پروژه کار پيل سو . په لنډه موده کي دې پديدې دومره پراختيا او وده وکړه چي نړۍ يې حيرانه کړه . ښکاره خبره ده چي دا ټول برياليتوبونه نه د تشو لاسونو کار دي او نه هم خود به خوده تر سره کيږي.
ښاغلي هولاندي ! موږ يو متل هم لرو چي وايي : مه کوه په چا ، چي و به سي په تا . اوس نو پخپله وواياست چي ايا تاسي د اسلام سره پرابلم لرئ که اسلام ستاسي سره ؟

د اوس د پاره همدومره

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ